د ۱۳۸۱ لمریز دغبرګولي ۱٦

د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون

مطبوعاتي اعلامیه
پر خلکو او ناپوځی شتمنیو باندی بریدونه د اسلامي او انساني قواعدو پرخلاف
کابل : د۱۳۸۸ د کب ۸ مه د ۲۰۱۰ د فبروري ۲۷:

د ۱۳۸۸ کال د کب پر ۷ مه د جمعي ورځی په سهار د ډله یزی ځان وژونکو بریدونو له کبله د کابل د ښار ځیني استوګنځي او سوداګریزي سیمي او هم ځینی ملکی افغانان او بهرني اتباع وژل شوي او یا ټپیان شوي دي. دغه برید په داسی وخت کي تر سره شو چي خلګو غوښتل چي د حضرت محمد مصطفی(ص) د زیږیدو ورځ ولمانځي. د ۱۳۸۸ کال د کب پر ۵ مه نیټه د کندهار ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس ښاغلی عبدالمجید (بابی) وسله والو مخالفینو په شهادت ورساوه، د رپوټونو له مخي د دې پیښو مسولیت د دولت وسله والو مخالفینو پر غاړه واخیستی.

د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د دې اعلامیی په خپرولو سره و زیان رسیدلو کورنیو ته خپل غمشریکی وړاندي کوي او ټپیانو ته ژر تر ژره روغتیا غواړي، په همدې ډول کمیسیون خپل ژور خپګان د شهید عبدالمجید (بابی) کورنی، د هغه دوستانو او د افغانستان د فرهنګ پالو لویي کورنی ته وړاندي کوي. کمیسیون د ملکی کسانو پر خلاف باندي بریدونه په کلکه غندي.

د ۱۳۸۸ کال د کب پر ۷ د سهار پر ۶:۳۰ بجو وسله والو یرغلګرو د یو موټر څخه چي د چاودیدونکو توکو څخه ډک وو په کارولو سره د کابل نوی ښار ته ځانونه ورسول، د دو درنو چاودنو څخه وروسته د وسله والو او پولیسو تر منځ جګړه پیل شوه چي درې ساعته یې دوام وکړ او د هغه په نتیجه کي وسله وال مخالفین مړه او وضعیت د پولیسو تر کنترول لاندي راغي، د دی نښتي په پایله کي ۱۳ کسه ملکی کسان چی داخلي او بهرنیان وه مړه او د ۳۲ کسانو په شاوخوا کي داخلی او بهرني کسان ټپیان شول.

کمیسیون د بیګناه ملکی کسانو پر ځان او مال باندي د بریدونو د ډیریدو له امله په اندیښنه کي دی، ځکه چی د دغه شان بریدونو مانا داده چي مخالفین د ملکی خلګو ژوند ته هیڅ پاملرنه نکوي، کمیسیون یو ځل بیا دا غواړی چي باید د ملکی خلګو ژوند او مال ته درناوی وشي، او هم د دولت د امنیتي ځواکونو څخه دا هیله لري چي هڅه وکړي او د ترهګرو د بریدونو مخه ونیسي. د دوو میاشتو څخه په لږه موده کي دا دوهم ځل دي چي د کابل ښار تر دغه شان بریدونو لاندی راځي.

احمد فهیم حکیم د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون مرستیال او کمیشنر په دی هکله وویل ”پر ملکی خلکو او ودانیو باندی بریدونه په هیڅ ډول باندی نشی کولای توجیه کیدلای، ټولی خواووی باید بشرپاله قوانین او نړیوال اصول او بشری قواعدو ته درناوی او د هغوی د ساتنی پابندی وکړی.“

د افغانستان د بشری حقونو خپلواك كميسیون یو ځل بیا په کلکه باندي په جګړه کی اخته وو خواو او په ځانګړی توګه د دولت د وسله والو مخالفینو څخه غواړي چي پر ملکی استوګنځیو او سوداګریزو مرکزونو باندی مستقیم بریدونه ونکړي.

د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون
پل سرخ، دریمه کارته، کابل افغانستان
ټیلفون: 020 2500676
فکس: 020 2500677
ایمیل: aihrc@aihrc.org.af
سایټ: www.aihrc.org.af